DAILY ارادهٔ افغان

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۳۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

آلمان در عرصهٔ معارف افغانستان، ۱۱۰ میلیون یورو کمک می کند

آلمان قصد دارد، جهت انکشاف کلتور و معارف در افغانستان در سال ۲۰۱۰ مبلغ ۱۱۰ میلیون یورو صرف نماید.

به گزارش خبرگزاری ریانووستی، کورنیلیا پیپر معاون وزارت خارجهٔ آلمان با ابراز این مطلب افزود: " تا پایان سال ۲۰۱۰، حکومت فدرالی آماده است، در عرصه های کلتوری و معارف افغانستان در حدود ۱۱۰ میلیون یورو سرمایه گذاری نماید؛ به گزارش این منبع، این کمک، بیشتر برای ص۳

لسم کال - دویمه دوره، ۷۳۵ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۰۲ ګڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ٤ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الثاني ۷ مه د ۲۰۱۰ د مارچ ۲٤ مه

چین ته د ولسمشر کرزي سفر،

سیاسي که اقتصادي موخې



د افغانستان ولسمشرحامد کرزی پرون چین ته لاړ، چې د دغه هېواد له چارواکو سره په افغانستان او سیمه کې د ترهګرۍ او نشه یي توکو د مخنیوي، دوه اړخیزو اقتصادي او تجارتي اړیکو او د افغانستان په بیارغونه کې د چین د ونډې په اړه خبرې وکړي.

د افغانستان په طبیعي زېرمو کې د چین پر پانګونې د نظرتبادله هم ښایي د دواړو خواوو د خبرو په اجنډا کې بله شامله موضوع وي. چین په دې وروستیو کې د افغانستان پر کانونو باندې د پانګونې لپاره لېوالتیا ښودلې او له همدې امله تېر کال د لوګر د عینکو د مسو کان د استخراج په برخه کې د چین یوه کمپنۍ د افغانستان د کانو له وزارت سره یو تړون لاسلیک کړ، چې د دې چارې لومړي پړاووننه ۳مخ

امریکا د کابل او حکمتیار ترمنځ د خبرو هرکلی وکړ

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له مخالفانو سره د افغان حکومت د خبرو اترو د تازه هلو ځلو ملاتړ کړی دی.

امنیت شورا همدارازپه افغانستان کې د یوناما ماموریت د یوه بل کال لپاره وغځاوه او دا واک یې ورکړ، چې هلته د پخلاینې له بهیر سره مرسته وکړي.

د امنیت شورا پرېکړه لیک افغان چارواکي هڅوي، چې په مناسبو حالاتو کې کولای شي د ملګرو ملتونو مرسته هم وکاروي، خو پرېکړه لیک د هر راز خبرو اترو شرطونه په ډانګ پېیلي توګه څرګندوي.

پرېکړه لیک زیاتوي په دغه بهیر کې برخه اخیستونکي ۳مخ

افغاني طالبانو دوه نوي مشران ټاکلي

د طالبانو مشر ملا محمد عمر د ملا عبدالغني برادر پر ځای دوه نور کسان خپل مرستیالان ټاکلي دي.

دا خبره پرون د وري پر درېیمه پاکستاني رسنیو خپره کړې ده.

پاکستان د طالبانو د سرچینو په حواله ویلي، چې ملا محمد عمر د عبدالقیوم ذاکر او اخترمحمد منصور په نومونو دوه تنه خپل مرستیالان ټاکلي.

ویل کېږي چې عبدالقیوم ذاکر د امریکا په ګوانتانامو زندان کې بند هم تېر کړی او اختر منصور بیا وړاندې د طالبانو ۳مخ



د کارموندنې اعلان

DW

د آلمان ږغ راډیو لیکوالو ته اړتیا لري

د آلمان ږغ راډیو د خپلو راډیویي ډرامو د خپرونې د یوې نوې لړۍ لپاره مجربو او استعداد لرونکو ښځینه او نارینه لیکوالو ته اړتیا لري.

په ټولیزه توګه دغه دوه سوه راډیویي ډرامې، چې سل یې په پښتو او سل یې په دري کې په پام کې نیول سوي د «واړه او زده کړه» تر نامه لاندې د پروژې په چوکاټ کې په افغانستان او آلمان کې تولیدیږي.

د ډرامو موضوعګاني باید د افغانستان د وګړو د ژوند بیلابیلې برخې انځور کړي. البته دا موضوعګاني د آلمان ږغ راډیو له خوا ټاکل کیږي. هره ډرامه لس لړۍ لري او باید ۱۵۰۰ کلیمې وي. د راډیویي ډرامو پر جزییاتو باندې او دا چې څه ډول څرنګوالي باید ولري، د آلمان ږغ راډیو په هغو معلوماتي سیمینارونو کې وربانديخبري کیږي، چې د انتخاب سوو لیکوالو لپاره دایریږي. په دغو سیمینارونو کې ګډون حتمي او د دغې پروژې یوه برخه ده.

هره لیکواله او یا هر لیکوال د یوې راډیویي ډرامې لپاره لس لړۍ لیکي. هره اونۍ باید یوه لړۍ په بشپړه توګه ولیکله سي او د E-Mail له لارې اړوند مسوول کتونکي یا مصحح ته واستول سي. کتونکي یا مصحح په هغې کې اړین بدلونونه راوړي اود اړتیا په وخت کې لیکواله او یا لیکوال په خپلې لیکل سوي ډرامې کې ژر تر ژره دغه بدلونونه په پام کې نیسي او په خپل لیکل سوي متن کې بدلون راوړي.

د روان میلادي کال د مې په میاشت کې په کابل کې له خو ورځو ښوونیز سیمینار څخه وروسته لیکوالان د خپل کار د پیل لپاره چمتو کیږي او عملا د ۲۰۱۰ میلادي کال د جولای په لومړۍ نېټه په خپل کار پیل کوي. د هرې ډرامې ټولې لس لړۍ باید د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې تر نیمایي پورې بشپړې او کتونکو ته وړاندې سي. د کار د بشپړولو لپاره ټاکلې موده په هیڅ ډول سره د اوږدیدو نه ده. که چیرې تر ټاکلې مودې کار بشپړ نه سي، د ټرون خلاف عمل ګنل کیږي.

لیکواله او لیکوال باید څه ډول مسلکي پسمنظر ولري:

۱. د راډیویي تمثیلي کیسو په برخه کې ډیره ښه تجربه درلودل یا د دیالوګ په شکل د لنډو هیجاني کیسو په لیکلو کې تجربه.

۲. د دیالوګ په توګه په ولوله خو «طبیعي» توګه د په زړه پورو او علمي مسایلو د لیکلو توانمندي درلودل.

۳. د تمثیلي او بیا په خاصه توګه د لړۍ لرونکو کیسو په لیکلو کې داسي توانمندي او استعداد درلودل، چې ټولې لس لړۍ یوه د بلې په تعقیب خپله ولوله او هیجان له لاسه ور نه کړي.

۴. په یوې ټاکل سوي موضوع کې په ځانګړې توګه د څېړنې لپاره توانمندي درلودل او حقیقي، رښتیني معلومات په ساده او د پوهیدو په وړ ژبې سره بیانول.

۵. د داسي لیکلو توانمندي درلودل، چې په ساده، روانه، د پوهیدو وړ او په زړه پورې ژبه وي او د راډیو اوریدونکي په ځانګړې توګه ځوان نسل پرې پوه شي او خوند ترې واخلي.

۶. په خپل ټاکلي وخت کې د لیکل سوي متن د سپارلو لپاره دستپلین درلودل او د دې لپاره چمتوالي ښودل، چې د کتونکي او مصحح له غوښتنې سره سم پرته له ځنډ څخه په لیکل سوي متن کې بدلون راوستل سي.

د آلمان ږغ راډیو څه آسانتیاوې تاسي ته برابروي:

۱. په یوه په زړه پورې او نوښت لرونکې پروژه کې د خپلې پوهې او زده کړې د لا پراختیا په موخه د برخې اخیستو لپاره امکانات برابرول.

۲. په دغه پروژه کې د آلمان ږغ راډیو له غوښتنو سره سم په ټاکلې موده کې د سپارل سوو کارونو د بشپړېدو څخه وروسته د --,۲۲۰۰ (دوه زره دوه سوه) ایرو حق الزحمې ورکول.

۳. د کتونکو او د پروژې د مسوولینو له خوا د کار له پیل تر پاې پورې ملتیا.

۴. تر یوې ټاکلې اندازې پورې د مخابراتي لګښتونو په غاړه اخیستل. د هغو لګښتونو په غاړه اخیستل، چې د لیکوالانو او د کتونکو او د پروژې د مسوولینو تر منځ د تماسونو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

۵. تر یوې ټاکلې اندازې د څېړنې د موادو لګښت په غاړه اخیستل. د بیلګې په توګه: لیکواله یا لیکوال مجبوره کیږي، چې په یوه ټاکلې موضوع کې د خپلې څېړنې لپاره یو کتاب راونیسي. د دغه کتاب یا داسي نورو موادو لګښت تر یوې ټاکلې اندازې د آلمان ږغ راډیو یې په غاړه اخلي.

۶. په کابل کې د دغې پروژې لپاره د زده کړو د یو څو ورځنې سیمینار دایرول. د سیمینار د هغو برخوالو د خوراک او هوټل د مصارفو په غاړه اخیستل، چې له کابل څخه بهر راځي.

د مهربانۍ له مخه خپل غوښتنلیکونه د لیکنو یوه یا دوې نمونې او مسلکي اسناد د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې تر ۲۵ نېټې پورې په دغو E-Mail یا برېښنالیکونو راولیږئ!

هغه لیکوالي او لیکوالان، چې زموږ له خوا ومنل سي، د مارچ تر پایه پورې به ورته خبر ورکړل سي.

د اړیکې پته:

Ibe.afg@dw-world.de
afghanistan@dw-world.de
www.dw-world.de/pashto
Tel.: ۰۰۴۹ ۲۲۸ ۴۲۹ ۴۸۴۲

ستاسو له لیوالتیا څخه ډیره مننه

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

نتایج کانکور و سرنوشت متعلمان بی نتیجه

طی هفته‌یی که گذشت وزارت تحصیلات عالی کشور، نتایج امتحانات کانکور جدید الشمولان سال ۱۳۸۹ نهادهای تحصیلی کشور را اعلام نمود؛ طوریکه در این نتایج مشاهده می‌گردد و از اظهارات مسوولان این وزارت برمی‌آید، امسال نیز همانند سال‌های گذشته، شمار زیادی از جوانان ما که البته شمار آن به هزارها تن می‌رسد و دورهٔ تعلیمی شان را طی سال‌های گذشته سپری نموده اند، به اصطلاح وزارت تحصیلات عالی بی‌نتیجه مانده اند و به بهترین آرزوی زنده‌گی شان که دریافت حق تحصیل می‌باشد، نایل نگردیده اند.

استراتیژی‌یی که در گذشته ها، به خاطر جلب و جذب جوانان به موسسات تحصیلات عالی و تفکیک افراد مستعد از نامستعد وجود داشت، مبنی بر دو معیار مشخص و واضح، کامیاب و ناکام، استوار بود، اما در سال های اخیر، با اجرای شماری از روش‌های کاپی شده از بیرون، بدون درنظرگیری جنبه‌های مثبت و منفی آن، این روند "بی‌نتیجه ماندن‌ها" نیز به دروازه-های پلانگذاری و پالیسی وزارت تحصیلات عالی راه یافته و مورد اجرا قرار می‌گیرد که در شعله‌های آن، به گفتهٔ ضرب المثل عامیانهٔ ما "تر و خشک هر دو می‌سوزد."

این استراتیژی جدید وزارت تحصیلات عالی، چنانکه در سال‌های گذشته و هم اکنون پیامدهای آن به مشاهده می‌رسد، در جامعه نه تنها کارآ و اقع نشده، بلکه موجب بروز مشکلات جدی گردیده است. با پیاده سازی این راهکار، طی سال‌های گذشته و امسال طوری که دیده می‌شود، شمار زیادی از استعدادهای جوان کشور را از دست داده ایم؛ زیرا بر مبنای این شیوه، برای جلب و جذب افراد در موسسات تحصیلات عالی، استعدادها نه، بلکه انتخاب‌ها، معیار قرار داده شده که در نتیجهٔ آن، آنعده از جوانان ما که دارای استعدادهای عالی و دستاوردهای بهتری در زمینهٔ فراگیری علم و دانش بوده، ولی در انتخاب پوهنحی‌ها، دقیق نبوده اند نیز، از این حق، محروم می‌گردند.

بنابراین، این شیوه، گذشته از آنکه بر میزان بیکاری قشر جوان در کشور می‌افزاید و سبب تضعیف روحیهٔ آنان می‌گردد، از سوی دیگر، باعث آن نیز می گردد که شمار زیادی از استعدادهای جوان خود را همه ساله از دست دهیم، که اگر این روند در آینده نیز ادامه یابد، گفته می‌توانیم که از یک سو موجب بحران فزایندهٔ بیکاری که خود در درجهٔ اول، زایندهٔ فقر، بدبختی، ناامنی و خشونت در کشور می‌باشد، خواهد گردید و از سوی دیگر، باعث محرومی شمار زیادی از استعدادهای جوان کشور از ادامهٔ تحصیلات عالی می‌گردد.

به این اساس، دولت به ویژه وزارت تحصیلات عالی کشور، باید استراتیژی تحصیلی کشور را چنان آماده سازد که با واقعیت‌های کنونی جامعهٔ ما همخوانی و سازگاری داشته باشد و با درنظرداشت مشکلاتی که هم اکنون مردم، جامعه و جوانان ما با آن دست و پنجه نرم می‌نمایند، با برداشتن گام‌های کارآ در این راستا، قدم بگذارد. گذشته از این، وزارت تحصیلات عالی باید، میزان جلب و جذب جوانان در نهادهای تحصیلات عالی کشور را بیشتر نموده، تا توانسته باشد، با جلب بیشتر افراد از این طریق، از یک سو، از میزان مشکل بیکاری در کشور کاسته باشد و از سوی دیگر، جلو پیامدهای خطرناک و زیانباری را که از این مشکل ناشی می‌شود، از قبل گرفته باشد.

وزیر صاحب اقدام دې نیکمرغه و، خو...

میوند

تورې شیشې او د تورو شیشو فرهنګ زمونږ په هېواد کې د بهرنیانو په راتګ سره ښه وغوړېد او ښه وده یې وکړه. دا داسې یو فرهنګ دی، چې ښایي په جرئت سره ورته د تور او ناوړه فرهنګ نوم هم ورکړو، ځکه په دې فرهنګ کې هرڅه تور وي، تور په دې مانا چې له ملت نه پټ وي، کله چې یو شی له ملت نه پټ شي، نو ارو مرو ښه پیغام نه لري او ښې هیلې ورنه نه شي کېدای. په دې وروستیو کې په ملت کې هم د دې فرهنګ پر وړاندې حساسیتونه ډېر شوي دي، ځکه دې تور فرهنګ ملت ته د رڼا پر ځای د تیارې تصویر وړاندې کړ او په د دې فرهنګ په وزرونو کې ځینو کسانو داسې غیرانساني او ناوړه جنایتونه ترسره کړل، چې هېڅ ساری نه لري. په همدې اړه څه موده وړاندې د کورنیو چارو وزارت د یاد شوي تور فرهنګ د ورکولو لپاره یو غوره او په زړه پورې اقدام وکړ او هغه دا، چې په ټول هېواد کې یې له موټورونو څخه د تورو فلمونو یا د تورو شیشو د پاکولو لړۍ پیل کړه. دا لړۍ لومړی په خپله د کورنیو چارو وزیر له خپلو موټورونو نه د فلمونو په پاکولو سره پیل کړه او ورو ورو یې په ښارونو او ولایتونو کې د چارواکو، موسسو، ارګانونو او ځینو سوداګرو پر موټرونو دا پروسه څه ناڅه پلې کړه، خو له بده مرغه دا پروسه لکه څنګه چې په ډېر جوش سره پیل شوه، هغسې بیا پلې او تر سره نه شوه. اوس هم په ښار کې د تورو فلمونو او د تورو شیشو لرونکي موټرونه تر سترګو کېږي او په ازادانه ډول د ښار په جادو او سړکونو کې تګ راتګ کوي، نو مونږ نه پوهېږو چې ایا د وزیر صاحب پرې زور نه رسېږي او که د ده په خوښه داسې چټ و پټ ګرځي او یا هم کومه بله خبره ده. باید دا هم وویل شي، ځینو چارواکو او د تورو شیشو موټرونو درلودونکو په سمه توګه د خپلو موټرونو شیشې نه دې پاکې کړي، مونږ وینو، ډېری هغه موټرونه چې تورې شیشې یا فلمونه یې پاک شوي دي، په بشپړه توګه فلمونه نه دي تړي لرې شوي، یوازې د مخې او یوه یا دوې دوې د څنګونو شیشې یې سپینې شوي، خو که د شا له لورې ورته وګورې نو هماغسې په پخوانۍ ښه پاتې دي، یا په بله وینا د شاتنې سپټ شیشې یې هماغسې تورې پاتې دي او د مختنیو دوو دوو شیشو په سپینولو سره یې هم د خلکو په سترګو کې خاورې ور اچولي او د اجرایې قوې کله چې دا پروسه پیل شوه، نو په لومړیو ورځو کې ډېره جدي تر څانې او تعقیب لاندې وه او ملت هم ورته د نېک او غوره اقدام په سترګه کتل او زمونږ د دغه درد بدلې ملت یو څه هیلې هم ورسره ژوندۍ شوې، ځکه زمونږ ملت د تورو شیشو موټرونه نه ښې خاطرې نه لري او په عام ولس کې یې یو ډول تهدید پاشلی دی، خو له بده مرغه دا پروسه ورو ورو بېرته د غلي کېدو په حال کې ده او اوس په ښارونو کې امنیتي مسوولین پر دې مسئله دومره سر نه خوږوي او که حالت همداسې دوام وکړي، نو لرې به نه وي، ټول هغه کسان چې له موټرونو یې تور فېلمونه لرې شوي، ببرته یې پر خپلو موټرونو ولګوي او حالت به تر پخوا نور هم بدتره شي.

همداشان اوس بیا په ښارونو کې د داسې موټرونو شمېر زیات شوی، چې شیشې یې په بشپړه توګه تورې دي او دا موټرونه بیا هم تر ډېره بریده په دولت او دولتي چارواکو پورې اړوند او ترلې دي، ځکه د اکثرو داسې موټرونو پلېټ نمبرونو ته که پاملرنه وشي، په دولت پورې اړه لري، یاني پلېټونه یې دولتي وي، نه شخصي او هغه هم تر ډېره بریده د دولت په اجرایې قوې پورې زمونږ په اند ښایي د دې پروسې په پوره توګه د نه عملي کېدو یو لامل هم داوي، چې تر ډېره دولتي چارواکي خپلسري کوي او قانون ته غاړه نه ږدي، خو کله چې قانون مات شي، نو بیا یې هېڅوک هم پروا نه کوي.

یوه بله مهمه مسئله، چې د ډېرې پاملرنې وړ ده، هغه دا چې دا پروسه یوازې پر افغان چارواکو څه ناڅه عملي شوه او نور بهرنیان، هغوی که پوځیان دي او که ملکیان ښه په نره په تورو شیشو کې ګرځي، هغوی خو به دا وایي، دولت چې پر خپل خان قانون نه شي پلی کولای، نو پر مونږ خو یې د پلار هم زور نه رسېږي. د هغوی سترګې زمونږ په هېواد کې اوس دومره شکېدلي، چې زمونږ د هېواد قانون ورته لوتې ښکاري او آن زمونږ امنیتي خواکونه د هغوی موټرونه یوازې درولای هم نه شي، وار خو یې د شیشو د پاکولو شو. که دې مسئلې ته له فلسفیکو سترګو وګورو، نو تر ډېره بریده همدغه بهرنیان زمونږ په هېواد کې بې امنی او قانون ماتونې ته لمن وهي، ځکه هغه متل دی، چې وایي: (منه له منې رنګ اخلي) او یا دا چې (اوسې، نو په خوی به د هغو سې). په دې توګه زمونږ افغان چارواکي او نور زورور خلک چې د دوی اکثرونه او کرنې وینې، نو دوی هم ځانونه تر یو کم نه بولي او سمه سیالي ورسره کوي. په دې اړه زمونږ ګران ملت شاهد دی، چې اوسمهال ملي پولیسو او ملي اردو هم د بهرنیانو چمونه زده کړي، دوی هم لکه د بهرنیانو غوندې اوس چې په ښارونو او سیمو کې ګزمې کوي، نو نور عادي موټرونه ځانته نژدې نه پرېږدي او که په ناپامه توګه لرې ورنژدې شي، نو سمدلاسه پرې د توپکونو خولې راتیټې کړي، چې دا کار د دې لامل کېږي، چې په سیمه او هېواد کې امنیت ګډوډ، خپلسري زیاته او قانون سپک او بې ارزښته وګڼل شي او تر ټولو مهمه یې دا، چې د ملت پر وړاندې خپل اصلیت او ارزښت هم وبایلي او ملت هم د دې پر ځای چې په دوی پورې زړه وتړي، کرکه او نفرت تري کوي او په دې توګه د ملت او دولت ترمنځ واټن پیدا کېږي.

په هر صورت تر ټولو مهمه دا ده، سره له دې چې د تورو فلمونو او شیشو د پاکولو دا چاره په ډېره نېکه موخه پیل شوه، خو ولې یې د عمل سپینې او سپېڅلې جامې وانه غوستې او ولې پر ټولو افغان او بهرنیو چارواکو باندې پلې نه شوه؟ دا هغه پوښتنه ده چې بنسټیز او قانع کوونکي ځواب ته اړتیا لري او دې پوښتنې ته بیا هم دولت، په تېره بیا د کورنیو چارو وزارت ځواب ویلای شي، ځکه د دا د دوی دنده او مسوولیت دی، چې ملت ته د دې پوښتنې په اړه رڼه او کره معلومات او سم ځواب ورکړي.

د افغانستان او چین پخواني او اوسني اړیکي



د افغانستان او چین تر منځ اړیکي له اوومې میلادي پېړۍ راهیسې پیل شوي دي، هغه مهال چینایي راهب شون ژانګ بامیان ته لاړ او د بودا دوو سترو مجسمو ته حیرت یوړ. دا شوه د پېړیو پخوانۍ کیسه، خو په راورستیو کې په نولس سوه پنځه پنځوسم میلادي کال کې د کابل او پېکنګ دیپلوماتیکي اړیکې ټینګ شول، افغانستان یو له لومړیو هغو هېوادونو و، چې د چین کمونېست رژیم یې د ماوځه تنګ په مشرۍ د چینګ کې شیک د ملي حکومت پرځای په رسمیت وپېژانده. دغه دیپلوماتیکي اړیکي د دواړو هېوادونو تر منځ وو، چې بیا کله پر کابل طالبان واکمنان شول، نو چین دغه حکومت ونه مانه، خو د رویټرز اژانس په وینا له طالبانو سره چین د پاکستان له لارې غیرمستقیم اړیکي لرل. اوس هم افغان چارواکي دا هیله لري، چې پېکنګ پر اسلام اباد فشار راولي، څو د طالبانو له حمایته لاس واخلي او طالبان د روغې جوړې خبرو ته تیار کړي. چین له پاکستان سره ډېر نژدې روابط لري، دواړه هېوادونه له هند سره ښه اړیکي نه لري، نو د افغانستان او چین تر منځ اړیکي له اوومې میلادي پېړۍ راهیسې پیل شوي دي، هغه مهال چینایي راهب شون ژانګ بامیان ته لاړ او د بودا دوو سترو مجسمو ته حیرت یوړ. دا شوه د پېړیو پخوانۍ کیسه، خو په راورستیو کې په نولس سوه پنځه پنځوسم میلادي کال کې د کابل او پېکنګ دیپلوماتیکي اړیکې ټینګ شول، افغانستان یو له لومړیو هغو هېوادونو و، چې د چین کمونېست رژیم یې د ماوځه تنګ په مشرۍ د چینګ کې شیک د ملي حکومت پرځای په رسمیت وپېژانده. دغه دیپلوماتیکي اړیکي د دواړو هېوادونو تر منځ وو، چې بیا کله پر کابل طالبان واکمنان شول، نو چین دغه حکومت ونه مانه، خو د رویټرز اژانس په وینا له طالبانو سره چین د پاکستان له لارې غیرمستقیم اړیکي لرل. اوس هم افغان چارواکي دا هیله لري، چې پېکنګ پر اسلام اباد فشار راولي، څو د طالبانو له حمایته لاس واخلي او طالبان د روغې جوړې خبرو ته تیار کړي. چین له پاکستان سره ډېر نژدې روابط لري، دواړه هېوادونه له هند سره ښه اړیکي نه لري، نو

امریکا د کابل او حکمتیار...

باید دې ته چمتو وي، چې له تاوتریخوالي لاس واخلي، له القاعدې سره اړیکي پرې کړي او د افغانستان اساسي قانون ومني.

د اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونوله خوا د افغانستان د لانجې د سیاسي حل ملاتړ مخ پر زیاتېدو دی، خو د امریکا هڅه دا ده چې تر خبرو اترو وړاندې طالبان له پوځي اړخه بې سبکه او کمزوري کړای شي. په ملګرو ملتونو کې د روسیې سفیر ویتالي چولکین هم په دې برخه کې شک ښوولی. کای ایډې پر پاکستان تور لګولی و، چې د یو شمېر طالب مشرانو په نیولو سره له طالبانو سره د ملګرو ملتونو خبرو اترو بهیر ته زیان ورسېد.

نومورې د ملګرو ملتونو د امنیت له شورا په ټینګه وغوښتل، چې د طالبانو پر وړاندې دې خپل لګولي بندیزونه مات نه کړي.

هغه ټینګار وکړ، خبرې اترې باید یوازې له هغو وسلوالو سره وشي، چې خپلې وسلې پر ځمکه ږدي.

وړمه ورځ افغان دولت منلې وه، چې ولسمشر حامد کرزي د ګلبلدین حکمتیار د اسلامي ګوند له راغلي پلاوي سره لیدلي کتلي دي.

نومورې وویل چې دغه پلاوي هغه تګلاره له افغان ولسمشر سره شریکه کړه، چې ویل کېږي د سولې لپاره یې له ځانه سره راوړې ده.

دغه پلاوی څه موده وړاندې کابل ته رسېدلی او د یو شمیر افغان چارواکو سره پر خبرو اترو بوخت دی.

د دغه پلاوي مشري د ګلبلدین حکمتیار د مرستیال قطب الدین هلال پر غاړه ده او د دغه ګوند پخوانی ویاند قریب الرحمن سعید، داوود عابدي او د ښاغلي حکمتیار زوم غیرت بهیر د دغه پلاوي نور غړي دي.

داسې ویل کېږي چې د ښاغلي حکمتیار له خوا د سولې دغه طرحه پنځلس مادې لري، چې تر ټولو مهمې یې د روان میلادي کال د جولای له میاشتې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل او د شپږو میاشتو په اوږدو کې یې بشپړېدل، اوربند، افغان ځواکونو ته د امنیت د چارو سپارل او ولسمشرۍ، ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ته بیا له سره ټاکنې د دغې طرحې مهمې مادې یادېږي.

دغه پلاوي تر دې وړاندې د مشرانو جرګې رییس او د سولې د ټینګښت د کمېسیون مشر صبغت الله مجددي سره هم لیدلي دي.

د یو شمېر کتونکو په وینا په نوي تګلاره کې هم د پخوا په پرتله زیات توپیر لیدل کېږي او داسې ښکاري، چې په افغانستان کې د ښکېلو غاړو په دریځ کې دا مهال ډېر نرمښت تر سترګو کېږي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پخواني ځانګړي استازي کای ایډې تېره اونۍ ومنله چې له طالبانو سره یې پټې خبرې کړې دي، خو دا یې هم ویلي چې د پاکستان له خوا د یو شمېر جګپوړو طالب مشرانو په نیولو سره دغه بهیرته زیان ورسېد.

خو طالبانو بیا له ښاغلي کای ایډې سره هر راز خبرې اترې ردې کړې دي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي یوه ویاند ویلي، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پخواني ځانګړي استازي کای ایډې ته له طالبانو سره د خبرو اترو لارښوونه نه وه شوې.

استفادهٔ نادرست از چای، سبب بروز بیماری ها می شود

استفادهٔ نادرست از چای، سبب بروز بیماری های چون سرطان مری، فشار بلند، حملات قلبی، سقط و سؤ شکل جنین، ضعف حافظه و دردعضلات شده می تواند.

چای دومین نوشیدنی معروف و محبوب مردم در سرتاسر دنیا پس از آب است. مردم افغانستان نیز روزانه چندین بار از چای سیاه و یا سبز استفاده می کنند.

دکتور فیض الله کاکړ وزیر مشاور ریاست جمهوری افغانستان در امور صحت با بیان این مطلب افزود:

بر اساس تحقیقاتی که متخصصان امور صحی در جهان انجام داده اند، هر نوع چای سیاه و سبز درپهلوی فوایدی که دارد، مضر نیز تمام شده می تواند.

به گفتهٔ وی، اگر بیشتراز پنج دقیقه چای سبز جوش داده شود، یک نوع عنصر(فلوراید) موجود در برگ های چای داخل آب جوش می گردد و این عنصر از طریق چای داخل خون انسان شده و سبب ایجاد درد عضلات، خستگی و ضعف حافظه شده می تواند.

قرار اظهارات منبع، اگر تا پنج دقیقه برگ چای در آب باقی بماند، ۱۷ ملی گرام و اگر بیشتر از پنج دقیقه باقی بماند، تا ۳۰ ملی گرام مادهٔ یادشده در چای مخلوط می گردد. وی توصیه می کند که در وقت دم نمودن چای از چای صاف و یا از چای پاکتی که در پاکت های خورد جابه جا شده، استفاده گردد و برگ های چای باید بیشتر از دو دقیقه در آب باقی نماند. موصوف گفت که چای سیاه نیز در پهلوی فوایدی که برای وجود انسان دارد، نسبت داشتن ماده یی به نام کافین مضر نیز می باشد. وی گفت که باید چای سیاه نیز، مانند چای سبز تهیه گردد و برگ های این نوع چای نیز بیشتر از دو دقیقه در آب باقی نماند. همچنان کاکړ خاطرنشان کرد که کافین موجود درچای برای زنان حامله خطرناک بوده، سبب سقط و سؤ شکل جنین دربطن مادر شده می تواند. موصوف از مادران خواست، تا در زمان بارداری روزانه بیش از دو پیاله، چای سیاه مصرف نکنند.

کاکړ نوشیدن چای سیاه رقیق را مضر خواند که به نظر وی، این نوع چای امراض قلبی وعصبی را شدت می بخشد؛ سبب فشار بلند و کم خوابی نیز می گردد. همچنان وی گفت که نوشیدن چای بسیار داغ سبب ایجاد بیماری سرطان مری نزد بعضی از افراد می گردد. به اساس معلومات موصوف، هرگاه هر دو نوع چای وبه خصوص چای سیاه قبل از خواب نوشیده شود، اعصاب را تحریک نموده، سبب کم خوابی شده می تواند.

اما وی خاطر نشان کرد که چای دِر پهلوی اضراری که دارد، در صورتی که درست تهیه و استفاده گردد، دارای فواید بی شماری نیز می باشد. کاکړ می گوید که در چای سبز ویتامین های آ، بی دو، سی و دی، فاسفورس وغیره نیز موجود می باشد.

به اساس معلومات منبع، اگر چای سبز به شکل درست تهیه گردد، از بیماری های چون پوسیده گی و فساد دندان ها، سرطان مثانه، پروستات، فشار خون، امراض قلبی، گلودردی و انفلونزا جلوگیری می نماید.

په وردګو کې یوه ترکي چورلکه راولوېده

په وردګو کې د ترکانو د ولایتي بیارغاونې یوه اکمالاتي چورلکه له غره سره تر ټکر کېدو وروسته رالوېدلې، چې یو تن په کې وژل شوی او درې نور ټپیان دي.

د وردګو د والي ویاند شاهدالله شاهد وویلي، پېښه پرون له غرمې وړاندې د میدان ښار په ښځینه باغ کې شوې ده.

ښاغلی شاهد زیاتوی، یوه چورلکه ناسته او بله په هوا کې چورلېده، چې په ناڅاپي توګه د غره له څوکې سره وجنګېده او د میدان ښار په ښځینه باغ کې راپرېوته.

په پېښه کې وژل شوی او ټپیان د الوتکې د عملې له ډلې ترکان دي.

د وردګو د والي ویاند زیاتوي، دا چې د ټپیانو ټپونه ژور وو، د درملنې لپاره کابل ته لېږدول شوي.

نوموړی وایي په الوتکه کې د ترکي ځواکونو لپاره اکمالاتي او لوجستیکي توکي بار وو.

د ویلو ده، چې په وردګو ولایت کې د ترکیې هېواد د بیارغاونې ډله کار کوي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، په دغه ولایت کې ۲۵۰ ترکي پوځیان د بیارغاونې ترڅنګ د افغان پولیسو پر روزنې هم بوخت دي.

دري تنه بهرني پوځیان وژل شوي

په افغانستان کې د ناټو په مشري نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د هېواد په سویل کې د خپل یوه سرتېري د وژل کېدو خبر ورکړی.

د ۲۰۰۲ کال له جولای میاشتې راهیسې افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د الوتکو په پېښو کې تر ۲۰ ډېر کسان وژل شوي دي.

دا خبره په کابل کې د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر په یوه خپره کړې ویناپاڼه کې کړې ده.

په خبرپاڼه کې د وژل شوي سرتېري هویت او د وژل کېدو دقیق ځای نه دی په ډاګه شوی، خو زیاتوي چې سرتېری وړمه ورځ (دوشنبه، د مارچ ۲۲مه) په سویل کې د ماین د چاودنې له امله وژل شوی.

راهیسې تر دې دمه افغانستان کې ۱۳۱ بهرني سرتېري وژل شوي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، د تېر کال د نومبر په وروستیو کې هم د ایساف تېره ورځ هم ایساف په جنوب کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړی و.

د ویلو ده چې له روان ۲۰۱۰ کال له پیل یوه چورلکه نادرکه شوې وه، چې له درو ورځو وروسته په لوګر ولایت کې ومونډل شوه، چې د اکراین درې وګړي په کې وژل شوي وو.

سیاسي که اقتصادي...

ترسره شوي دي.

د افغانستان او چین د اړیکو مخینه:

د افغانستان او چین ترمنځ راشه درشه یا تماسونه اوومې میلادي پېړۍ ته رسېږي، چې چینایي راهب د افغانستان بامیان ته سفر وکړ او هلته یې د نړۍ د دوو ترټولو لویو بودایي مجسموستاینه وکړه.

افغانستان او چین له یو بل سره له ۱۹۵۵ ع کال راپه دې خوا دیپلوماتیکي اړیکي لري. افغانستان یو له لومړنیو هېوادونو څخه دی، چې د چین کمونېستي رژیم یې په رسمیت پېژندلی و.

چین په افغانستان کې یوازې د طالبانو رژیم په رسمیت نه و پېژندلی، خو د ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ پورې یې د پاکستان له دې متحد رژیم سره غیرمستقیم اړیکي لرلې.

د افغانستان او چین اړیکي له ډېرې مودې راهیسې د پاکستان او چین د اړیکو تراغبز لاندې راغلي. چین او پاکستان دواړه له هند سره اختلاف لري.

سودا ګري او پانګونه:

مخ پر وده چین چې طبیعي سرچینو ته سخته اشتها لري، لېوالە دی چې له هرهېواد او حکومت سره راکړې ورکړې وکړي. چینایي چارواکي به ولسمشر کرزي ته په دې سفر کې وړاندیز وکړي، چې د دغه هېواد په کانونو کې نوره پانګونه کوي.

د افغانستان په سلو کې نوي بودجه د لوېدیزوالو له مالي مرستو پوره کېږي، خو افغان حکومت هیله لري، چې د افغانستان کمساري معدني منابع به دا هېواد پر خپلو پښو ودروي.

د چین یوې کمپنۍ د افغانستان د لوګر د عینک د مسو کان قرارداد کړی. په دې نږدې څلور نیم میلیارد ډالري پروژې تېر کال کار پیل شوی، خو د هغې کار ترتوقع سست روان دی.

د افغانستان د کانونو وزارت اوس هڅه کوي، چې د حاجي ګک د وسپنې کان هم مزایدې ته وړاندې کړي. د دې کان ارزښت د پنځو او شپږو میلیارد ډالرو ترمنځ اټکل شوی دی.

افغانستان همداراز لېوال دی، چې د دغه هېواد د تېلو او ګازو په برخه کې بهرنیان پانګونه وکړي.

د تاند وېبپاڼې د رپوټ له مخې، افغانستان او چین تېر کال موافقه کړې وه، چې په پامیر کې به سړک جوړوي. که دا سړک جوړ شي افغان سوداګر به د منځنۍ اسیا د هېوادونو او پاکستان له احتیاجه وژغورل شي. افغانستان او چین یوازې ۷۶ کیلومتره پوله لري او ترټولو تېته برخه یې چې واخجیر نومېږي، له سمندره پنځه زره متره لوړه ده.

دو وزیر و یک والی به محاکمه می روند

بررسی و تحقیق دوسیه های اختلاس دو وزیر و یک والی تکمیل و به زودی به محاکم ارسال خواهد شد.

این مطلب را څارنپوه فضل احمد فقیریار معاون لوی څارنوالی در امور تحقیق دیروز اظهارداشت. اما فقیریار نام های این دو وزیر و والی را فاش نکرد. قرارمعلومات موصوف، این دوسیه ها از جمله ۱۰ دوسیه است که در جریان یکسال اخیر تحقیق و بررسی شده است. به گفتهٔ او، این دوسیه ها، شامل قضایای اختلاس مامورین پایین رتبه، روسا، معینان، وزرا و والیان می باشد.وی گفت که این دوسیه ها علاوه از اختلاس شامل رشوت، جعل، تزویر و دیگر اعمال غیرقانونی نیز می باشد.

فقیریار گفت که در این دوسیه ها قراردادهایی نیز شامل است که در آنها تا ۷ میلیون دالر اختلاس صورت گرفته است. قرار اظهارات فقیریار، ۱۵ الی ۲۰ دوسیه، شامل حال شماری از وزرای کابینهٔ قبلی می باشد.

موصوف گفت که درگذشته ها آنان در خصوص احضار افراد بلندپایهٔ دولتی با مشکل مواجه می شدند،اما پس از آنکه وی شماری از این افراد را برای ولسی جرگه در عقب دروازه های بسته افشا نمود، خود متهمان برای تحقیق حاضر شدند.

اظهارات فقیریار در حالی صورت می گیرد که دیروز سیمینار سه روزه تحت نام (نقش ادارهٔ کنترول و تفتیش در کاهش فساد اداری) از سوی ادارهٔ کنترول و تفتیش در شهر کابل راه اندازی شده است. در روز اول سیمینار مذکور، محمدشریف شریفی رییس ادارهٔ کنترول و تفتیش گفت که این اداره، در یک سال گذشته، ۱۳ دوسیهٔ فساد اداری را که شامل ۹۲۷ میلیون افغانی اختلاس و رشوه می باشد به لوی څارنوالی راجع نموده است. به گفتهٔ شریفی، موجودیت فساد بیشتر مربوط به آن مصارفی است که خارج از بودجهٔ دولت صورت می گیرد و اندازهٔ آن به (۸۰٪) می رسد. موصوف گفت: "ما به عنوان ادارهٔ حساب گیر حاضر هستیم از مجموع۲۰ درصد کمک هایی که از طریق وزارت محترم مالیه صورت گرفته، به مردم خود پاسخگو باشیم."

به باور وی، فساد درادارات تا حدی کاهش و تا اندازه یی بهبود و اصلاحات به وجود آمده، اما بازهم به خاطراصلاح بهتر و خوبتر ادارات نیاز است، تا مبارزات بیشتر در راستای کاهش فساد ادامه یابد.

وی تصریح نمود که از طریق ایجاد قوانین و میکانیزم های جدی که ایجاد شده، کاهش فساد در ادارات دولتی محسوس است.

افغاني طالبانو دوه نوي...

د واکمنۍ پرمهال جګړې دنده پرمخ وړله.

د پاکستاني سرچینو په وینا، طالبانو ویلي چې دا کار له دې امله شوی، چې د دغه تحریک د جګړې مشر تر نیول کېدو وروسته د تحریک په فعالیتونو کې کومه نیمګړتیا نه شي راتلې.

د دغو نویو ټاکل شوو سلاکارانو په اړه ویل کېږي، چې له افغان حکومت سره د خبرو پلویان نه دي، بلکې د افغان دولت او بهرنیو ځواګونو پر وړاندې د مقاومت جاري ساتلو ملاتړي دي.

د تقریباً ۳۰ کلن عبدالقویم ذاکر په اړه ویل کېږي، چې پر ۲۰۰۷ کال له ګوانتانامو زندانه افغانستان ته وړل شوی او هلته تر یوه کال بند وروسته خوشې شوی او بېرته د طالبانو له لیکو سره یوځای شوی.

ویل کېږي چې ښاغلی ذاکر د طالبانو په لیکو کې یو منلی سړی دی، چې له همدې امله یې د افغانستان په جنوب کې د طالبانو په بریدونو او فعالیت کې رغنده رول درلود. تر دې وړاندې د ملا برادر په اړه ویل کېدل، چې نومورې غوښتل له افغان دولت سره د سولې په اړه خبرې وکړي. د بي بي سي د رپوټ له مخې، سیاسي کارپوهان په دې اند دي، کله چې ملا عبدالغني برادر له افغان دولت سره د خبرو تابیا ونیوله، پاکستان یې مخالف و او بلاخره هغه یې ونیوه، چې خبرو ته لاره هوار نه شي. وړاندې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پخواني ځانګړي استازي کای ایډې هم ویلي وو، چې پاکستان د طالب مشرانو په نیولو سره له طالبانو سره د خبرو بهیر ته زیان اوښتی دی.

نومورې ویلي وو، چې له طالبانو سره یې پټې خبرې پیل کړې وې، خو طالبانوبیا د ښاغلي ایډې دا ادعا رد کړه.

آلمان در عرصهٔ معارف...

زنان و دختران افغان صورت می گیرد، تا زمینه های خوب تعلیمی برای آنان میسر گردد. در حال حاضر فقط ۲۰ ٪ شاگردان مکاتب را دختران تشکیل می دهند. قبلاً گیدو ویستیرویلی وزیر خارجهٔ آلمان در کنفرانس در بارهٔ افغانستان در لندن جهت فعال ساختن مساعی جامعهٔ بین المللی دربارهٔ دفاع از حقوق مدنی زنان افغاستان دعوت به عمل آورده بود.

پنجسال دیگر باز هم در راه است

ج. شمس

چندی قبل یک تعداد وزراء تعیین و تعدادی نیز به حیث سرپرست به کار آغاز نمودند؛ بادرنظرداشت تجارب تلخ و ناخوشایند گذشته که از طرف یک تعداد ماموران عالیرتبه و باصلاحیت دولت صورت گرفت، سوء استفاده های کلان به وجود آمد که مردم رنجدیده و دردمند این کشور، ثمرآنرا دیدند و چشیدند.

این دور پنجسال آینده خدا کند رییس جمهور، به و عده هایی که قبل از انتخابات به مردم داده بود عمل نماید، و کسانی را که مصدر خدمت به ملت نشوند، باید به صورت فوری از کار برطرف و به محکمه تسلیم داده شوند، تا به جزا برسند، نه اینکه تشویق شوند، تا بیشتر به چور و چپاول بپردازند.

چنانکه من شخصا بعضی شان را می شناسم که یک روز در دستگاه دولت هم کار نکرده اند، اما با شناخت و رنگ بازی ها با بزرگان و سرشناسان دستگاه دولت، امروز نه تنها به کارهای بزرگ دولتی گماشته شده اند، بلکه صاحبان جایدادهای کلانی در کابل و دوبی نیز شدند.

از جانب دیگر، با آمدن بلیون ها دالر از کشورهای مختلف جهان در افغانستان و بنام دموکراسی، بازار آزاد، سکتور خصوصی و تجارت آزاد کشور به طرف نابودی و چپاول رفت؛ چنانکه کمونیستان بدون شناخت از مردم و جامعه بنام کور - کالی - دودی ملت را فریب دادند و این بار بازار آزاد سکتور خصوصی به درد بخور جامعهٔ ما نیست، جزء یک گروپ چپاولگر و مافیایی و بعضی شرکای شان، باقی مردم این کشور در شرایط سخت و ناخوشایند اقتصادی به سر می برند.

باید دانست که این کشور مربوط به ملت افغانستان است، نه گروپ خاص قومی؛ باید به این حقیقت پی برد که کشور را تنها می توان بدور از مفکورهٔ قومی، حزبی، گروپی و خاندانی به پیش برد، در فکر پیشرفت و پیشبرد همه اقوام این ملت باید بود.

دولت باید به همبستگی، وصلت، اتفاق و یکدلی همگانی و اتحاد ملت افغان کوشش و مجادله نماید، متاسفانه ما در گذشته دیدیم که بعضی از وزرای گرامی به خاطر پیشبرد مرام و مفکورهٔ شخصی شان وزارت خانه ها را تقریباً شخصی و فامیلی و قومی ساخته بودند؛ چنانچه اسیر نمودن کمیسیون مستقل رادیو تلویزیون ملی که از مدت تقریباً دو سال بدین سو با وجودی که قانون رسانه ها نافذ و در جریدهٔ رسمی نیز نشرشده بود، تا آخرین روزهای کاری وزیر سابق اطلاعات و فرهنگ در میزش محبوس بود و از تطبیق آن خبری نشد؛ پس معلوم می شود که حلقات معلوم الحالی در دولت وجود داشت که رسانه را با دولت در تضاد قرار می داد و قصهٔ آزادی کمیسیون مستقل رادیو تلویزیون را مفت ساخته بودند.

من باور به این دارم که چند وزیر پاک نفس و باتقوا و کار دادن در دستگاه دولت وجود داشت که می خواستند، برای مردم افغانستان صادقانه خدمت نمایند و این اشخاص فعلاً هم وجود دارد که یقیناً اگر کابینهٔ جدید به اساس صداقت، پاکی، دانش و وطن دوستی به وجود آید امید می رود برخیانت ها و بی تفاوتی های گذشته غلبه حاصل نمایند؛ افغانستان در پنج سال آینده به طرف ترقی، آرامش و ثبات گام برخواهد برداشت و مشکلات رفع خواهد شد؛ در غیر آن، اگر عدالت، بازپرس، محکمهٔ جنایتکاران، مافیای زمین، چپاولگران، متجاوزان بر حریم مردم و متجاوزان بر زنان و غیره جنایتکاران از طرف ارگان های مسوول دولت گرفته نشود، باز هم یک تعداد جواسیس در دستگاه دولت در خدمت بیگانه گان فعالیت نمایند؛ اگر قانون باز هم به زودترین فرصت ممکنه مورد تطبیق قرار نگیرد و جنایتکاران موجود به جزا نرسند، من صد درصد حدس می زنم که پنج سال آیندهٔ دورهٔ کاری آقای رییس جمهور به طرف ناکامی می رود.

باید بگویم که در این هشت سال، پول های کلانی به افغانستان سرازیر شد، اما معلوم نشد که این پول ها چه شد و به جیب کی ها انداخته شد؟ پولدار پولدارتر و غریب غریب تر شد؛

سوال من از ایشان این است که به حیث رییس جمهور کشور صلاحیت عام و تام دارند، تا به صورت جدی به مراجع قانونی و لوی څارنوالی امر اکید صادر نماید، تا کسانی که به دستبردهای بزرگ دست زده اند، بعد از ثبوت جرم، از طریق رادیو ها، جراید و تلویزیون ها چهره های شان نمایان و به مردم ستمدیدهٔ افغانستان معرفی شوند و حکم مطابق قانون جزا برای شان تعیین گردد، تا پند و عبرت برای دیگران شود و در مدت پنج سال آینده، کار شان به راحتی و پاکی به پیش رود.

خدا کند در پنج سال آینده، گلیم شبکهٔ مافیایی چپاول زمین های شخصی تا دولتی و مافیای مواد مخدر در افغانستان، برچیده شود.

اخیراً Kirk meye یک محقق ارشد امریکایی که در زمینهٔ فساد در افغانستان کار می کند و رهبر یک شبکهٔ امریکایی که وظیفهٔ شان مجادله با فساد مواد مخدر است، گفته است که تیمش به وی اظهار داشته که یکی از مقام های بلندپایهٔ دولتی در یک سفر به دوبی ۵۲ میلیون دالر را انتقال داده است؛ وی می گوید که قسمت زیاد این پول از درک فروش زمین به دست آمده؛ چون صاحبان قدرتمند در این کار دست دارند.

این وظیفه اساسی رییس جمهور کشور است، تا هدایت جدی و عملی بدهد که این شخص یا اشخاص هر که باشد، باید شناسایی شده و به دادگاه کشانده شود، تا حد اقل پنج سال آینده به پاکی، صداقت و تطبیق قانون به پیش رود، ور نه مردم مانند گذشته از کارکردهای دولت در پنج سال آینده نیز امیدی نخواهند داشت و کشور به طرف قهقرا و چپاول بیشتر حرکت خواهد کرد.

به امید آمدن تیم صادق، وطندوست و خادم ملت زجرکشیدهٔ کشور.

به آرزوی حاکمیت قانون در کشور نه مانند قانون رسانه ها که به تاق نسیان سپرده شد.

د تبر کال په اوږدو کې په سلګونو کیلومتر د ولسوالیو اوکلیوال سړکونه جوړ شوي

د تبر کال په اوږدو کې د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړونې ملي پروګرام له لارې د هېواد په ډېلابېلو ولایتونو کې ۳۰۰ کیلومتر د ولسوالیو په کچه او ۳۱۵ کیلومتره کلیوال سړکونه جوړ شوي دي.

دغه څرګندونې د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړونې د ملي پروګرام هماهنګ کوونکي او مدیر انجنیر بسم الله بسمل د وري پر ۳ مه ، په کابل کې یوې خبري غونډې ته وکړې. د افغانستان د کلیوالي سړکونو جوړونې ملي پروګرام، چې د نړیوال بانک، اروپایي کمېسیون، امریکا، انګلستان او جاپان هېوادونو لخوا تمویلېږي، په ۱۳۸۱ کال کې د ټولګټو، کلیو پراختیا او مالیې وزارتونو له خوا پېل شو. د بسمل په وینا، د دغه پروګرام هدف کلیوالو سیمو ته، چې د وګړو شمېر یې شاوخوا ۱۸ میلیونه اټکل شوی، د تګ راتګ اسانتیاوو برابرول دي.

نوموړي پژواک ته وویل، چې د تېرکال (۱۳۸۸) تر پایه پورې یې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د یاد شوي پروګرام له لارې د ولسوالیو په کچه ۳۰۰ کیلومتره سړکونه جوړ کړي دي.

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ اراده

روزنامهٔ اراده به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ اراده بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ اراده هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.

وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي. نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com